مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سیدعبیدالله نادر

۲۰۱۹/۱۲/۱۱

# ازلیت

درنه چوپتــیا کــي ، دا د لوی آسمـــان
ستا د قدرت او عظمـــــت ، نښـــــي دي

په تـــور تورتم، د سمــــــــــندرو په تل
ســـــــتا د بی شانه ، ازلیت نښـــــي دي

په دروند رفتـــــار، او قدمـــــــو د عدم
ستا عظـــــمت ، او ابدیت نښـــــي دي

په وران ویــــجاړو ، ادیرو کـــــي د دار
ستا د قدرت او د هیــــــبت ،نښـــــي دي

تورو تیارو ، او ظلــــــمت کـــــي د شپو
ســـتا دغرور، او صــــلابت نښــــي دي

په طـوفـــــانونوکي ، د بحرونو ســــــتا
د جبـــــاریت او قهــــــاریت نښــــي دي

درنه چوپتیا کــي، د زمان و مـــــــکان
ډیر عبرتـــــــاکه ، د قدرت نښــــــي دي

هلتـــــــه چي چــــــا ورته نظر نه رسي
ستا د نظـــــام ، د پراخیت نښــــــي دي

په سراسر د حیرتــــــــــــــــاکه نظام
ســـــتـــا لایزاله ، حریت نښـــــــي دي

په درست ســــرحد د کـــــایيناتو کي ، ستا
د لوړ شوکت او حاکمیـــــــــــت نښي دي

په رمـــــوزاتو د عـــــالم کــــي ، همیش
هـــر یو غـــافل ته د عبرت نښـــــــي دي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

چي په جوړښت کې ،ســـتا د کون ومکان
ستـــــــا د تدبير، او درايت نښــــي دي

گردنده ســـــتورو ، او نظام کې د شمس
د لازوال ، خود اراديت ، نښـــــــي دي

اســـرارو ډکه د وجــود مـــــانۍ کې
ستا د رفـــعت و، الـــوهيت نښـــي دي

په کــــانو بوټو د چمـــــن کـــــي وينو
ستاد حشمــــــت او جــلالت نښـــــي دي

هر کانـــۍ بوټـــۍ ، عـــــبرت بين د پاره
دي چمن کـــــي ، د مــعرفت نښـــي دي

په هر اندام او په وجــود کـــــي زمـــونږ
ستـــا د پو هني ، او حکمــــــت نښي دي

شور و فرياد د بلبـــــــــــلانو، ســـحر
ستا د ثـــــنا ، او د صـــــفت نښـــي دي

کال ۱۳۷۶پيښاور


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ